الدرس الرابع
الوضوء

څلورم درس
اودس

بغیر داودس او پاکوالی نه مونځ نه قبلیږی د ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی ، چی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی:ترجمه : الله پاک مونځ نه قبلوی د یو تن ستاسو کله چی بی اودسه شی، تردی پوری چی اودس وکړی .متفق علیه. ، اودس کولو کښې د اندامونو دترتیب او پرله پسی والی خیال ساتل ضروری دی ، د اودس ډیر زیات فضائل دی ، باید چی یو مسلمان د هغی نه خبر وی ، لکه په حدیث د عثمان رضی الله عنه کښې راغلي: «ترجمه» رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائی : چاچی اودس وکړو خائسته اودس ، نو دده د بدن نه ګناهونه معاف شي ، تردي پوري چی د نوکانو د لاندي ګناهونه هم معاف شي) (رواه مسلم : ٢٤٥).او دارنګه د عثمان رضي الله عنه نه دا هم روایت دی : قال رسول الله ﷺ : (چاچی د الله تعالی د حکم مطابق پوره اودس وکړو نو فرض مونځونه د دوي ترمینځ کړی شوي ګناهونه ختموی) رواه مسلم .د اودس طریقه:(١) په زړه کښې به د اودس نیت کوی ، بغیر دتلفظ نه ځکه چی نیت د زړه قصد او ارادی ته وائی ، بیا به بسم الله ووائی .(٢) بیا به لاسونه تر مړوندونو پوری دری کرته ووینځی.(٣) بیا به خوله کښې دری کرته اُوبه واچوی ، او حرکت به ورکړی او پوزه کښې به دري کرته اُوبه واچوی ، او پوزه به سُونړ کړی .(٤) بیا به لاسونه دري کرته ووینځی دګوتو دسرونونه ترڅنګلو پوری ، اول ښی لاس او بیا ګس لاس . (٥) بیا به دټول سر مسح وکړی ، پدی شان چی په لمدو لاسونو سره به د اول د تندی د ویښتونه شروع کړی ، د آخر د سر پوری ، او بیا به لاس راواپس کړی هغه ځائی ته د کوم ځائي نه ئی چي شروع کړی ده.(٦) بیا به یو ځل دغوږونو مسح وکړی پدی شان چي په مسواکۍ ګوته به د غوږ دننه حصه او په کټه ګوته به دغوږ بهرنۍ حصه مسح کړی .(٧) بیا به خپی دری کرته ووینځی، دګوتو دسرونو نه تر پړکو پوری ، اول ښۍ خپه او بیا چپه خپه . (٨) او بیا به دادعاء ووائی:أشهد ان لا اله الا الله ، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله. ترجمه : زه ګواهی کوم چي نشته حقدار دبندګۍ سیواء د یک یو الله نه او ګواهی کوم چه محمد ﷺ د الله تعالي بنده او رسول دی .عن عمر بن الخطاب رضی الله عنه قال قال رسول الله ﷺ : «مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبْلِغُ – أَوْ فَيُسْبِغُ – الْوُضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ إِلاَّ فُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ الثَّمَانِيَةُ يَدْخُلُ مِنْ أَيِّهَا شَاءَ» رواه مسلم ٢٣٤ .ترجمه : عمر ځوی د خطاب رضی الله عنه فرمائی : چی رسول الله ﷺ فرمائیلی دی : « نشته یو تن چه پوره اودس وکړی او بیا دا ووائی : زه ګواهی کوم چی نشته دی ، حقدارد بندګی سیواء د یو الله تعالي نه اومحمد صلى الله عليه وسلم د الله بنده اورسول دی ، مګر دهغه دپاره دجنت أته واړه دروازی پرانستلی کیږي ، ورداخل دِي شی په کومه دروازه ئي چه خوښه شی.